پوهندوی آصف بهاند

۲۰۲۱/۱۰/۱۳

# د ښځو سملاسي مشاعرې،

## د ښځو د زړه غږ او د استعدادونو د غوړېدنې ښه پېته

په دې وروستیو وختونو کې په تاند ویبپاڼه کې د ښځو سملاسي مشاعرې پیل شوې وې چې پیل یې ډېر ښه، خو وروسته یو څه ځنډنی شوې او په افغانستان کې له وروستیو سیاسي ـ نظامي بدلونونو سره ښایي د یادو مشاعرو د ګډون کونکو زړونه نور مات شوي وي. زه هیلمن یم چې دا مشاعرې په همدې ښه وغځېږي.

مشاعره داسې یوې غونډې ته ویل کېدای شي چې په هغې کې شاعران، د شعر مینوال او نور فرهنګیان سره را ټول شوي وي او خپل تخلیقات او د شعر په باب خپل نظریات یو بل ته اوروي.

د مشاعرې لغوي مانا په پښتو ـ پښتو سیند کې داسې ثبت شوې ده:

«د شاعرانو غونډه یا محفل چې خپل شعرونه په کې اوروي.»

(زاهد پښتو ـ پښتو سیند، عبدالقیوم زاهد مشوانی، د افغانستان د علومو اکاډیمي، دپښتو څېړنو نړیوال مرکز، دریم چاپ، ۲۰۰۹ ام کال، ۹۶۵ ام مخ)

ښاغلي ګل اغا احمدي وردګ د مشاعرې په باب یوه تفصیلي لیکنه خپره کړې ده، د هغې لیکنې په لړ کې د مشاعرې د لغوي مانا او تعریف په باب داسې راغلي دي:

«... مشاعره په لغت کې شعر جنګي یا د شعر په وسیله جګړې کولو ته ویل کېږي. دغه تعریف (منتهی الارب، انندراج، ناظم الاطباء، او اقرب الموارد) آثارو کې شوی دی. تاج المصادر بیهقي کتاب مشاعره داسې تعریف کړې ده: «له یو شخص سره د شعر په وسیله جګړه کول یا شعر جنګي» مشاعره د لغت له نظر په دهخدا فرهنګ کې داسې تعریف شوې ده: «له یو بل سره د شعر لوستل خو یو بل په خپل کلام په زیاته پیمانه پوه کړي.» همدارنګه مشاعره په لغت کې: «د شعار په جامه کې له بل چا سره ویده کېدل یا په یوه جامه کې له یو چا سره یو ځای کېدلو ته مشاعره ویل کېږي.» معین فارسي فرهنګ، منتهی الارب فرهنګ، تاج المصادر فرهنګ او ناظم الاطبا فرهنګ هم مشاعره د لغت له مخې په دې ډول تعرف کړې ده.

مُشاعَرَه چې جمع یې مشاعرات دی، اصلا عربي کلمه ده چې د شاعر د کلمې مصدر ګڼل کېږي او شاعر هغه شخص ته ویل کېږي چې نورو ته د شعر په موزونه ژبه شعري کلام وړاندې کوي. مشاعره همدارنګه د (ع) په (زوَر یا فتحه) سره د احساس، زده کړې، شعر لوستلو، شعار ورکولو، رسېدلو او په یو څیز د پوهېدلو په مانا دی او په اصطلاح کې د یو یا څو کسانو تر منځ د شعر ویلو سیالی د موزون کلام د وړاندې کولو مجلس یا شعر جنګي ته مُشاعَرَه ویل کېږي. دا سیالي کېدای شي چې د شاعر د خپل شعر د بیتونو په اساس وي یا دا چې د مشاعرې ګډونوال د نورو شاعرانو بیتونه خوښ او د هغه د قافیې په مراعات سره په خپل منځ کې د شعر سیالي وکړي. مشاعره کله کله په داسې ډول هم صورت مومي چې یو شخص دوه بیتونه وایي او مقابل لوری یې د وروستي بیت وروستی حرف اساس وګرځوي او خپل بیتونه باید په همغه حرف پیل کړي. د مشاعرې په هکله پورتنی تعریف په مشهورو عربي قاموسونو لکه (المجم الوسیط، معجم المعاني الجامع، لسان العرب، المعجم الراید، اللغه العربیه المعاصر) او



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

داسي نورو کې ذکر شوی دی. باید وویل شي چې مشاعرې ته په انګرېزي ژبه کې Poetical Meeting ویل کېږي. همدارنګه مشاعرې ته ځېنې نور نومونه هم کارول کېږي لکه په عربي ژبه کې ورته (الندوه الشعریه)، (مهراجان الشعر)، (المجلس الادبي) او (المجلس الشعری) او داسي نور ویل کېږي. په اردو ژبه کې ورته (مشاعره)، (بزم)، (عرس) او داسي نور کلیمات هم کارول کېږي خو په پښتو او دري ژبو کې (مشاعره) ورته ویل کېږي...»

د ښځو سملاسي مشاعرې ښايي ډېرې برخې ولري، خو زما له نظره يې دری برخې تېرې شوې دي، له نيکه مرغه ما يې له خپرېدو سره سم درېواړه برخې خوندي کړې دي، اوس غواړم چې يادو مشاعرو د دوام په هيله او په مشاعرو کې د ګډون کونکو مېرمنو د لا هڅونې او په يوه ځای کې د درېواړو مشاعرو د خوندي کولو په پاره؛ درېواړه مشاعرې له يوه مفصل يادداشت سره خپرې کړم.

د ښځو سملاسي مشاعرې زما له نظره د پښتني مېرمنو د استعدادونو يوه داسي بېلګه کېدای شي چې د خپل فکر د بيان له پاره دوی په دې وروستيو کې غوره کړې وه، خو له بده مرغه چې پر افغانستان باندې وروستيو سياسي ـ نظامي بدلونونو بل ډول سيوری وغوړاوه او د مېرمنو هر ډول فعاليتونه يې د اوس له پاره په ټپه ودرول، بيا نو ګوره چې څه وخت به څه وشي.

مخکې له دې چې د مشاعرو متن ته ورشو، اړينه ګڼم چې هغه پټې په لنډ ډول معرفي کړم چې د زمانو په اوږدو کې پښتني مېرمنو له هغو پټو نه خپل غږونه جګ کړي دي.

زه يې داسي ګڼم چې د پښتني ښځو د غږ جګولو اصلي او لومړنی پټه د پښتو فولکلور د لنډيو قالب دی، پښتني ښځو له پيل نه، بيا تر نن پورې د نارينوو له ظلم نه د خلاصون له پاره خپل غږ له داسي يو ادرس نه راباسي چې هغه د شخص مال نه، بلکې د ټولو خلکو مال ګڼل کېږي. څنګه چې لنډۍ ټاکلی ويونکی نه لري، نو نارينه هم له خوړ، لوړ او خپلې ښځې دا پوښتنه نه شي کولای چې ولې دې داسي ويلي دي؟ ځکه دوی لنډيو ته مخه کړې او د خپل ذهن او زړه خبرې يې هلته بيان کړې دي.

که په ټول کې که د لنډيو په ويونکو پسې وګرځوو، کېدای شي د لنډيو ويونکي پر دغو درې برخو وويشو:

ـ ښځينه لنډۍ،

ـ نارينه لنډۍ،

ـ د ښځو او نارينوو تر منځ ګډې لنډۍ.

خو د لنډيو له هر اړخيزې مطالعې نه ښکاري چې د لنډيو ډېره سلنه د ښځو له خوا ويل شوې ده:

**د بريتو څوکې دې کږې دي**
**زما نتکۍ په کې راکاږې مره دې کړمه**

**بيا به نرۍ کميس ونه کړم**
**باران لمده کړم جانان ټوله وليدمه**

**څوک مې له حاله خبر نه دي**
**لکه د نم دره پر زړه چاودلې يمه**

هغه لنډۍ چې تر اوسه پورې خوله په خوله تر موږ پورې را رسيدلې دي او يا د چاپ د صنعت او د اوسنۍ تکنالوژۍ له برکته خوندي شوې دي، د دې څرګندويي کوي چې په لنډيوکې د ښځو ژوند، انګيرنې، رنګارنګ احساس، د مينې د اظهار څرنګوالی، د کورنۍ په تيره د نارينه پر ضد د اعتراض د غږ اوچتول دي او د پښتني ميرمنې د اوږدو غمونو، دردونو او ناخوالو غږ د نورو غوږونو ته رسول دي.

د فولکلوريکو منظوماتو په ډله کې هيڅ يو صنف د لنډيو په اندازه عام او د منلو وړ نه دی. ټول فولکلوريستان په دې باوردي چې پښتو لنډۍ د بشريت د عاميانه ادبياتو يوه مهمه او شتمنه برخه جوړوي.

(بهاند آصف، لنډۍ، د ښتولوستونزه، په افغان جرمن پورتال کې د پرليکه کېدو نېټه: د ۲۰۱۸ ام کال جون، ۱۰ ام مخ)


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولئ

دا لاندي يي لینک دی:

http://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/bahand_a_landy_de_sabtawlostonza_ketab4.pdf

سلیمان لایق د لنډیو په باب د خپل یوه بحث په ترڅ کې داسي ویلي دي:

«د ښځمنو لنډیو د لومړنیو نطفو نښې او پلونه حتی له فیودالي دورې نه هغه خوا د بربریت دوران ته رسیږي:

**پرېږده چي بند په بند مي پرې کړي**
**ما چي د ژنو یاري کړخ، مرګ ته ورتلمه**

**چېرې پناه شوی په غم ورکه**
**ما په اوښانو بدلوي، تا غرقوینه...**

ښځه پرته له دې توپیر نه چي په کومه اجتماعي طبقه پورې تړلې ده، د لنډیو په نه چوپېدونکي او دایمي بهیر کې پرلپسې چیغې وهي او د ځان په هکله د نارینه تېرې او ستم بربندوي:

**صورت مي خپل، واک یي د بل دی**
**صورته خاوري شې چي نور دي وال لرینه...»**

(پښتولنډۍ، د افغانستان د علومو اکاډیمي، پښتوټولنه، ۱۳۶۳ کال، د لایق صاحب د لیکني دوه څلویښت ـ څلورڅلویښت مخونه)

په پښتو شفاهي ادب کې د ښځو ونډه که وځېړل شي، دا له ورایه ښکاري چي د شفاهي ادب ځیني نورې برخې هم د ښځو له خوا تخلیق شوې دي تر ټولو ښه بېلګه یې د میندو سندرې دي. استاد زلمي هېوادمل په دې باب داسي لیکلي دي:

«پښتني میندي د خپلو ماشومانو د ویدولو، لوبولو، ارامولو ځیني سندرې لري چي زموږ فولکلور ښېرونکي هغه د میندو سندرې بللي دي.»

(هېوادمل زلمی، د پښتو ادبیاتو تاریخ، لومړی ټوک، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۷۹ ـ ۲۰۰۰ کالونه، ۱۴ ام مخ)

تر فولکلور وروسته، د پښتو لیکني ادب له مطالعې نه ښکاري چي د نهمې هجري پېړۍ په پای او د لسمي هجري پېړۍ په پیل کې داسي ښځینه نومونو سره مخ کېږو چي په پښتو ژبه اثار ورنه پاتي دي. استاد هېوادمل په پورتني یاد اثر کې لیکلي دي چي:

«... د دغو ښځو اثار موږ ته دا هم راښیي، چي دغه وخت د پښتنو په ځینو کورنیو کې د ښځو باسواده کېدلو ته توجه کېدله او داسي ښکاري چي دغه مهال ځینو پښتنو ښځو ته دا حق ورکاوه، چي سواد زده کړي، د دیني علومو زدکړه وکړي او د مدارسو ځیني نصابي منظوم او منثور کتابونه ولولي... هغه ښځمنې چي اثار یي د پښتو په لومړۍ ادبي دوره کې د مطالعې ځای لري درې تنه دي: زرغونه کاکړه، رابعه، نېکبخته»

(هېوادمل زلمی، د پښتو ادبیاتو تاریخ، لومړی ټوک، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۷۹ ـ ۲۰۰۰ کالونه، ۷۲ ـ ۷۴ مخونه)

د پښتو ادب په راوروسته دورو کې د ښځو ونډه نوره هم پیاوړې شوه چي تر څو په اوسنۍ دوره کې خبره تر دې بریده ورسېده چي پښتني مېرمني د نوي ټکنالوژۍ پر مټ انلاین مشاعرې جوړوي د خپل زړه خبره د سترګو په رپ کې ټولو لوستونکو او لا ټولې نړۍ ته رسولای شي.

په تاند کې د خېرو شوو سملاسي مشاعرو پوره لست ما ته نه دی مالوم، خو لومړنی دا یي چي زما له نظره تېره شوې ده، هغه د نارینه وو سملاسي مشاعره ده. لومړی د نارینه وو د سملاسي مشاعرو په باب لنډ معلومات:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

په تاند کې لومړنۍ سملاسي مشاعره چې زما له نظره تېره شوې ده، هغه د نارينوو تر منځ سملاسي مشاعره وه چې د ۲۰۱۳ ام کال د اگست پر ۲۴ مه خپره شوې ده او يوازې درې تنو نارينه شاعرانو په کې گډون کړی وو چې دا يې د گډون کونکو نومونه دي:

«ساحل، مرووند، الماس»

د دې مشاعرې په پيل کې يو «يادښت» ليکل شوی دی، دا يې متن دی:

«يادښت: ايمل مرووند دفتر ته راغی ويل يې، چې نن يې زړه ډېر تنگ دی او جعفر الماس يې له کوره راغوښتی، چې شپه رنه کړو.

ما تېره شپه هم رنه کړې وه، خو ومې منله او نيغ په نيغه ايمل دوی کره راغلو تر لومړنيو کارونو وروسته پرېکړه وشوه، چې مشاعره کوو او ټول ستوني ستاغ پرېوتو، چې مطلعې جوړې کړو الماس دوه مطلعې وويلې، خو زړه يې نرۍ شو او ويې ويل، چې خير دی زه به دا ځان ته غزلې کړم او تاسو بله ووايئ»

دا خو بېتونه د دې مشاعرې بېلگې دي:«

نور محبت په زړه کې نه شم ساتی
نـور لېـونی رانـه اظـهـار کـيـږي
الماس

ايـلـه بـيـلـه جـرگـه يـې ومـنـله
که خدای کول بل ځلې کار کيږي
ساحل

اوس په ملگرو هم شکې غوندې شوم
اوس مې لـه هر سـړي نه ډار کيږي
مرووند»

د نارينوو تر دې مشاعرې وروسته، په تاند کې د ښځمنو څو مشاعرې انلاين شوې دي چې دا يې زما له نظره تېرې شوې دي:

۱ ــ لومړنۍ مشاعره د ۲۰۱۸ ام کال د مې مياشتې په شپاړسمه نېټه خپره شوې ده،

۲ ــ دويمه مشاعره د د ۲۰۱۸ ام کال د سپتمبر مياشتې پر شپږمه نېټه خپره شوې ده،

۳ ــ دريمه مشاعره د ۲۰۱۹ ام کال د مې مياشتې پر پنځمه نېټه خپره شوې ده،

۴ ــ څلورمه مشاعره د ۲۰۲۰ ام کال د اگست پر پنځلسمه نېټه خپره شوې ده،

۵ ــ پنځمه مشاعره د ۲۰۱۸ ام کال د سپتمبر پر څليريشتمه نېټه خپره شوې ده،

۶ ــ شپږمه مشاعره د ۲۰۱۹ ام کال د جون پر نولسمه نېټه خپره شوې ده،

۷ ــ اومه مشاعره د ۲۰۲۰ ام کال د مې پر اولسمه نېټه خپره شوې ده

۸ ــ اتمه مشاعره د ۲۰۲۰ ام کال د نومبر پر اتلسمه نېټه خپره شوې ده.

زما له نظره د تېرو شوو مشاعرو بشپړ متنونه، د خپرېدو په وخت کې ما خوندي کړي دي او دلته يې د پښتو ادب د راتلونکو څېړنو په موخه، تر همغو سرليکونو لاندې د نويو مالوماتو په ملتيا خپروم:

لومړۍ مشاعره:



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

په دي مشاعره کي پنځلس (۱۵) تنو میرمنو ګډون کړی دی او ټول یوسل او نهه (۱۰۹) بیتونه تخلیق شوي دي. د مشاعرې متن چي هر چا د خپرولو یا انلاین کولو له پاره ترتیب کړی دی، اته شپېتمه شمېره تشه پاتي شوې ده.

د مشاعرې د ګډون کونکو نومونه دا دي:

آسیه محرابي، مینا نظري، حسینه مینه وفا، عابده سپوږمی، مریم ساپی شینواري، نعیمه غني، رعنا خان اسدزی، ثلوسه تنها، هما ظفر احمدزی، مسکا سنګر نیازی، سوله افغان، حوره سپېځلي، معصومه غرځنی، محرابي علیزئ او خوږه شېرزاد.

دا په تاند کی د **دې** مشاعرې خپور شوی متن دی:»

## د ښځو په باندار پاڼه کي سملاسي (فی البدیهه) مشاعره

پیل د آسیه محرابی د غزل په دو بېتونو:

1.تا چي دروغو نه کیسي جوړي کړې
لـه دېـــره غـمـه مـا نـغـمي جوړي کړې

2. چي دي د مینې په شراب نشه کړم
پټ دي د زهرو پیماني جوړي کړې
آسیه محرابی

3. ستا به عادت و یا به ناز خدای خبر
پـه ما دي هسي دا جرګي جوړي کړی
مینا نظري

4. ماخو نیولي وو د مینې په سوال
تا مي لاسو ته زولني جوړي کړې

5. چي دي رقیب ته خوږ نظر وکړلو
پاس په زړګي مي دي لمبي جوړي کړې
حسینه مینه وفا

6. شېخه! دا مه وایه تا څه کړي دي
مـا ثـوابي ځـومـیـخـاني جوړي کړې
مینا نظري

7. زه دی په تمه وم چي کله راځي
تا د خـبـرو نـه بهاني جـوړې کړې
عابده سپوږمی

8. د رواجــونـه پیروان یـــو شوی
مینې ته بیا یې غرغرې جوړې کړې
حسینه مینه وفا

9. ته چي د مـینې په سفر ولاړې
ما هم د صبر نه پنې جوري کړې
مریم ساپی شینواري

10. چي نـوم یـې اخلم عبادت کومه
ما یې له تورو نه تسبې جوړې کړې



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

نعیمه غني

11. د لـیـري لارو وطنونه پـرېـږده
راشه وطن کې مو مېلې جوړې کړې
مینا نظري

12.وطـن ته دربه شم چې سوله راشي
طالب لالي مي بیا جګړې جوړې کړې
آسیه محرابی

13. هغه د میني کیسي ختمي شولي
ما مي شعرونو نه ګیلې جوړې کړې
مریم ساپی شینواري

14. ته مي هنر په کوم نامه یادوې؟
ما لـه دردونـو تــرانې جـوړې کړې
حسینه مینه وفا

15. چي تا نه لرم بل خوا نه ګورم
ما روغو سترګو نه رنې جوړې کې
مریم ساپی شینواري

16. ما د زړګي حال په اخلاص بیان کړ
تــا بــدنــامــی تـــه آوازې جـــوړې کړې
حسینه مینه وفا

17. ها شـاهـانـه کـالـي اوس نـه لرمه
ستا په فراق کې ما جنډې جوړې کړې
مریم ساپی شینواري

18. ما د غزل تکل لا نه وو کړی
دا ستا خـبـرو دا شېبې جوړې کړې
مینا نظري

19. نـوم مي نـوم سره خـپـل ولـیـکلو
ستا ننګرهار کې مي لمبې جوړې کړې
رعنا خان اسدزی

20. چي د سلګو سره موسکی شوم پکي
ما ژونـد ته دغه شان اسرې جوړې کړې
حسینه مینه وفا

21 . له پـتي مینې مو خبر شول خلک
په چم ګاونډ کې بې کیسې جوړې کړې
تلوسه تنها

22. زه او ستــا سترګې او د مینې نظر
واه ما په سوله کې جګړې جوړې کړې
مریم ساپی شینواري

23. قـــلـــم د زړه خـــبـــره نـــه منلـه
د زړه په زور مې دا مصرې جوړې کړې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

نعیمه غني

24. زړه لکه خوله نه دی چي حال ووايي
د غــم پــه ویـنـو بـې ویالي جوړې کړې
آسیه محرابی

25. هغه د خپل حسن نه نه وو خبر
ما ته یي د عمر زولني جوړې کړې
رعنا خان اسدزی

26. ورځه حاجي خپل عبادت دې کوه
ما خو په زړونو کي کعبې جوړې کړې
مریم ساپی شینواري

27. یو پسرلی شو بل د سولي غږ دی
د ګلابـونـو مـي جـامـي جـوړې کړې
عابده سپوږمی

28. ښه ته حاجي شوې عبادت دې کوه
ما دې په میـنـه کي کعبې جوړې کړې
رعنا خان اسدزی

29. قـلـم چي خط لیکه نو دوه ټوټې
کاغذ په خپله شعر ټپې جوړې کړې
آسیه محرابي

30. چي په هر لفظ کي دغزل مي ته یې
داسـي مـي درد تـه قـافـیـې جوړې کړې
حسینه مینه وفا

31. د وخـت مـلالـه یـم پښتون ویښوم
په لر او بر کي مي ناري جوړې کړې
عابده سپوږمی

32. راشه ملالي زه دې خور یم ګوره
مـا د غـلـیـم پـر زړه لمبـې جوړې کړې
آسیه محرابی

33. لاړه د میني اراده يې نه وه
هسي يې ماته بهاني جوړې کړې
هما ظفر احمدزی

34. خلک یې بولي شعر، غزل او ټپې
ما دې ستـایـلـو تـه پـلـمـې جوړې کړې
حسینه مینه وفا

35. د ګـلابـــو په شـــان مـــي ویـــاللي
له خپل وجود نه مي ابرې جوړې کړې
مریم ساپی شینواري

36. تـا بـــه ویـل ګلي، زه وعـده کومه
ګوره چي تا څومره نخرې جوړې کړې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

مینا نظري

37.د واده شنې بنارسی نه مې نن
د لالي قبـر ته جنډې جوړې کړې
تلوسه تنها

38. ته چې کړکی لاندې دیدن ته راځې
مـا مـې د زلـفو نه رشمې جـوړې کړې
مریم ساپی شینوارۍ

39.د ژوند کتاب مې له دردنو نه ډک
تاته مې ټولې ښې شېبې جوړې کړې
هما ظفر احمدزی

40. چې زه به تلم او تا به نه پرېښودم
خـلـکو لـه دې نـه ډرامې جوړې کړې
مسکا سنګر نیازی

41. زه ډېـــره وړې وم قسم پـــه والله
ځان ته مې ښکلې ېکوړې جوړې کړې
سوله افغان

42. مکمل زړه ما ستا په نوم قربان کړ
تـا مـې لـه مـینـې ننداري جـوړې کړې
حوره سپیڅلي

43. هغه احساس مې نن په زړه ختم کړ
تـل چې مـې تـا تـه ترانې جـوړې کړې
هما ظفر احمدزی

44. لکه سکروټه غوندې سره پاتې شه
مـا ستا په مـینه شوګېرې جوړي کړې
آسیه محرابي

45. تـا چې هـر څـه ویـل ما نه منله
بیلتون زړګي کې مې تغمې جوړې کړې
مسکا سنګر نیازي

46. مونږ شوګېرو سره عادت یو ګرانې
لـه خپلـو اوښکو مې ډېوې جوړې کړې
مریم ساپی شینوارۍ

47. دا ستا لـه تـللو پس زه داسې ومه
له رڼا ورځې به مې شپې جوړې کړې
حوره سپیڅلي

48. تا به ویل، ستا مې دا خندا خوښه ده
ته څومره ښه یې تا ورمې جوړې کړې
مینا نظري

49. راتګ دې بل رنګ خوشالي راوسته
خـو بیرته تګ دې زلـزلې جـوړې کړې



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

عابده سپوږمۍ

50.د دیـدن وخـت، د الوتلو وخت وي
زلفي مي څه خوږې ورې جوړې کړې
عابده سپوږمۍ

51. لکه چي زړه يي وو, پخلا شي جانان
نـظـر يـي بـل شـان اشـاري جوړې کړې
حسينه مينه وفا

52. ستـا د نـامه له سوچه تـورو نه ما
پرون بيګا مي تري تسبې جوړې کړې
حوره سپيڅلي

53. دا سترۍ - سترۍ زړه راويش خنګه کړم
پـه جـبـر- جبر مـي مصرۍ جـوړې کړې
هما ظفر احمدزی

54. زه مـي لـه وروره ګيله منه يمه
زما په هنر يي مسخرې جوړې کړې
حوره سپيڅلي

55. خالق پيدا کړې، بيا يي ناز هم ورکړ
ښـځې يـي څـکـه پـريـښـتې جـوړې کړې
عابده سپوږمۍ

56. د جـانـان ښـکـلي او خـوږې خبرې
ما د غزل ترې ځو مصرې جوړې کړې
مسکا نيازي

57. خبر د ميني مي ښکاره کړې وه
تـا تـرېـنـه هسې فلسفې جـوړې کړې
عابده سپوږمۍ

58. زه په حساب د پلار نهمه لور وم
زمـا پـه ولـور يي بنګلې جوړې کړې
حوره سپيڅلي

59. سمنک هسې يو د سرپښو ډنډ دی
ښـځـو تـرې ولي عـقيدې جوړې کړې
مريم ساپۍ شينوارې

60. نـن مي صورت د دلبرا وليده
زړه مي عجبه ولولې جوړې کړې
هما ظفر احمدزی

61. ستـا د راتـګ اوازه ګـده شــولــــــه
سترګي مي تورې شوندي سرې جوړې کړې
عابده سپوږمۍ

62. پښتو غزل بـه تر سپوږمۍ هسکيږي
مـا يـي هر بـيت کي دُرداني جوړې کړې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

عابده سپوږمی

63. زه خو هر وخت تا ته مُسکا درکوم
تـا راتــه ولي انـدېښـنـي جــوړې کړې؟
مریم ساپی شینوارۍ

64. مـوږ خـه ابــاد ښارونه ونړول
او خلکو ړنګې ښاريي جوړې کړې
عابده سپوږمی

65.نـن يي نـظـر ډېره شوخي وکړله
بس هر انداز يي اشارې جوړې کړې
حسینه مینه وفا

66. دُر او مرجان راوړوي (عابدې)!
مـشـاعـرې تـه (تا) نغمې جوړې کړې
آسیه محرابی

67. تا ته به هسې هيڅ خبره نه وه
ما دي له درده هديرې جوړې کړې
مسکا نیازي

68.
69. اوس به په لاره تیندکونه نه خورو
کلي تــه لارې مــو پـخې جوړې کړې
مینا نظري

70.نه مې شعر زده دی نه شاعره وومه
خـو ستا په غم مې قصېدې جوړې کړې
مریم ساپی شینوارۍ

71. رالــنـدېـ وه دا د راتــلــو مـزلـونـه
سترګو مو لارې څه اوږدې جوړې کړې
مینا نظري

72. (مسکا) دې تل وي او خندا د (مینا)
زمــا د زړه بـې سـلسلـې جــوړې کـړې
آسیه محرابی

73. چې بې له تا يې بل ته نه ورکوم
مـا مـې لاسـو تـه زولنې جوړې کړې
مسکا سنګر نیازي

74.مـا درتــه ويـل پــه فساد مــه راګــوره
سترګو دې بيا زړه کې نخرې جوړې کړې
هما ظفر احمدزی

75.ما ته دې هغه ورځ پيغور پرېښودو
تـا چې نـکـریزو کې نامې جوړې کړې
مینا نظري

76.(پروین ملاله) ده خو نه ښکاريږي
زمـا پــر زړه يې انديښنې جوړې کړې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

آسیه محرابی

77. چې دې بانه په ناز راپورته کړل یار
زما زړګي تــه دي چـړې جــوړې کړې
مریم ساپی شینوارې

78. خور د ملالي میوندی یم آخر
له ډېره درده مې ټپې جوړې کړې
تلوسه تنها

79.د ښــایستــونــو تــقــدس وګــورئ
سپوږمی پر شنه اسمان جلوې جوړې کړې
عابده سپوږمی

80. هغــه ده (مینــه) مینه ټــولــه مینه
نه شتون ېې ما ته وسوسې جوړې کړې
آسیه محرابی

81.زه په ایمـان درته قسم خورمه چې
موږ پسې خلکو ناق کیسې جوړې کړې
عابده سپوږمی

82. رڼاندې شوندې او مړاوې سترګې
جـانـان سـیځلـو تـه لـمبې جوړې کړې
هما ظفر احمدزی

83.خلک نو ولې وایي، یار دې در کړې
مـا تــه مـې دا جـامـې ادې جــوړې کړې
عابده سپوږمی

84. (سپوږمی) را وخېژه رڼا خوره کړه
چې پــه پښتـو غزل شغلې جوړې کړې
آسیه محرابی

85. یو لاس دې راکړه یو به زه جوړه کړم
مـیـنـې مـو ښـار کـې اوازې جــوړې کړې
حوره سپېځلې

86. زمـا او سـتا واړه، واړه جنګونه
خلکو ترې سمې حماسې جوړې کړی
مسکا سنګر نیازی

87. زه د پښتون په حسن یم مینه
غزل مې ځکه نغارې جوړې کړې
عابده سپوږمی

88. لـه شـاعرۍ نـه مـو قربان جینکو
څه په کمال تولو مصرې جوړې کړې
هما ظفر احمدزی

89.نو هله به پوه شئ چې وطن جوړیږي
کــه مــلایــانــو مــیــکــدې جــوړې کړې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

عابده شپوږمی

90 پښتني (هسکي) دي او ښکلي ښکاري
(ملالی) خور مې کارنامې جوړې کړې
آسیه محرابی

91. د آسیه جانې دې کمال ته ګوره
دغه مجلس ته يې ښيبې جوړې کړې
هما ظفر احمدزی

92. له تا نه دومره لرې نه ومه خو
چا مو تر مينځه فاصلې جوړې کړې
حوره سپيڅلې

93. چا ويل چې نشته پښتنې شاعرې
ما اسمانونو ته زينې جوړې کړې
مينا نظري

94. زما د (هما) حسن، نظر ته ګورئ!
کمال يې خپل، ماته بهانې جوړې کړې
آسیه محرابی

95. دا جينکۍ ټولې مئينې ښکارې
د زړه خبرې کنايې جوړې کړې
هما ظفر احمدزی

96. خبرې ټک، غړ يې ټوپک غوندې دی
بې سر يار چې ترانې جوړې کړې
آسیه محرابی

97. د وطن خاوره به رانجه کړمه زه
له مات بنګړي مې اینې جوړې کړې
حوره سپيڅلې

98. وطن کې سوله محبت راولې
اه خدايه! مينې ښه خوږې جوړې کړې
آسیه محرابی

99. زه ځمه مونځ کوم بيا بيرته راځم
ما اوداسه ته ارادې جوړې کړې
هما ظفر احمدزی

100. اوس راته وايه چې څنګه ښکارم!؟
ما ستا په خوښه سرې جامې جوړې کړې
تلوسه تنها

101. په سور کميس کې ډيره ښه ښکاريږې
ما يې لمن ته کنارې جوړې کړې
تلوسه تنها

102. کوکوګل ناسته وه خو پام يې نه وو
جانان مې ما ته اشارې جوړې کړې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

سوله افغان

103. په دې مجلس کې څو دلبرې لرم
مـا يې صورت ته آيـئـنـې جوړې کړې
هما ظفر احمدزۍ

104. تاسو رژيـم نيسئ اندام جوړوئ
زمونږ کولمو نور نغارې جوړې کړې
مريم ساپی شينوارې

105. زور وو دا ستا د ميني داسې چې ما
د زړه لـه هيلـو مـې کـعبـې جوړې کړې
معصومه غرښنی

106. تا خو پر ما ډير احسانونه کړی
ما هـم تول عمر حوصلی جوړی کړی
محرابی عليزی

107. توبه! دا نجونې څومره وران مخلوق دي
ګـورئ لــه هــر څه يـې نخرې جــــوړې کړې
تلوسه سپيڅلې

108. زه چې راتلای نه شومه بنده ومه
تــاسو پـــوره مشاعـــرې جوړې کړې
خوږه شيرزاد

109. خوږې! ته نه وې يارانه دې نه وه
له تـا په زړه کې  مې ګيلې جوړې کړې
آسيه محرابی

110. مـا لــه ګلاب سره سيالي کوله
زلفې چې ما خورې ورې جوړې کړې
مينا نظرې

*****

دويمه مشاعره:

په دې مشاعره کې څوارلس (۱۴) تنو ميرمنو ګډون کړی دی او ټول دوه اتيا (۸۲) بيتونه تخليق شوي دي، د مشاعرې د ګډون کونکو نومونه دا دي:

عابده سپوږمی، سهيلا حسرت نظيمي، آسيه محرابي، مريم ساپی، نعيمه غني، سپوږمی اکبرزی، خالده فوجون، عارفه عمرلور بشير، پروانه ضيايي، هما ظفر احمدزی، ناجيه نجات، معصومه غرنی، فرشته سهاک، حوره سپيڅلې.

دا په تاند ويبپاڼه کې د دې مشاعرې بشپړ متن دی:»

# سملاسي (فی البديهه) مشاعره


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

سپتمبر 6, 2018



د شعرونو راټولوونکې: ملالی بشیر

پیل د عابده سپوږمۍ په غزل:

پیماني په لاس کي مه شرنګه وه هسي
ساقي راوړه خمار مه څوروه هسي

زمـا سترګـو کي تاثیر دی دا منمه
خـو لاسونـه په لار مه زنګوه هسي
عابده سپوږمۍ

زه خو ستا له جفاګانو لاس په سر شوم
اوس مـي زړه پـه ظلـم مـه ماتوه هسي
سهیلا حسرت نظیمي

ستا که زړه رانه خپه وي راته وایه
د سفر بـهانـي مـه جـوړوه هسي
آسیه محرابی

زړه مي ژاړي چي ما د هېرولو هڅي وکړې
څـه نـور ولاړ شـه زړه مي مه بـوږنوه هسي
مریم ساپی

چي د زړه ته لاره ونه کړه نو تیر شه
بي مطلبـه سـترګي مه جنګوه هسي
نعیمه غني

زه سوالـګـره د دیـدن یـمـه دلبـره


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

په کچکول کې سکې مه راکوه هسې
مریم ساپی

که اظهار د مینې نشي ته کولی
لار بدله کړه ما مه زوروه هسې
سپوږمۍ اکبرزی

لاس مې خوشې کړه چې ورور مې راپسې دی
تـه مـرېـږي نـــه مـــا مـــه ځـنـــدوه هـسې
مریم ساپی شینواري

ستا په مینه کې وفا نه وه پوه نه شوم
د هجران په اور مې مه سوځوه هسې
خالده فوجون

ستا د غېږې خوشبويي ده جنت نه دی
مـا تـه هـغـه کیسې مـــه غـږوه هسې
مریم ساپی شینواري

عقله ګوره د جانان یادونه راغلل
دزړګي دروازې مه بندونه هسې
عارفه عمرلور بشیر

زه سپېڅلې یم سپېڅلې به شم پاتې
اې رقـیـبـــه نـغارې ډنګوه هسې
پروانه ضیایي

لیونیو لره لویه چاره عشق دی
د ګـنـاه تـورونه مـه لګوه هسې
عارفه عمرلور بشیر

زمانې د زړه ارمان مې راپوره کړه
دا خیـالي نـړۍ مې مه ړنګوه هسې
نعیمه غني

چې مجنون د لیلی نـشې څه پې خوند شو؟
عشق چې نه وي ژوندون مه تېروه هسې
آسیه محرابي

موري زړه به مې له یاره صبر نشي
تـــاویـــزونـــه راتـــه مـه ځروه هسې
مریم ساپي شینواري

زه د مـیـنـــې انـتـها ته رسیدلې
د نفرت دامونه مه خوروه هسې
هما ظفر احمدزی

چې سفـر تـــه تـلـې ویـــده دې پـرېښـودلـم
اوس په سکایپ کې دې لاس مه ښوروه هسې
مریم ساپي شینواري

زه خو ستا د مینې دام کې یم نښتې
ګرانه زړه مې راته مه ماتوه هسې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ناجيه نجات

ناز نخري خو دي معشوقه بې ننګي ده
په عاشق باندي تور مه لګوه هسي
آسيه محرابی

زنده ګي ټوله هستي مي له تا جار شه
ناز همدومره نور مي مه تنګوه هسي
مريم ساپی شينواري

ستا دعشق په اور کي زه سوزېږم ټوله
د دوزخ لمبي نو مه پو کوه هسي
سهيلا حسرت نظيمی

بيا به سري سترګي خوبلن دفتر کي ناست يي
ياره يخي شړومبي مه غړنګوه هسي
مريم ساپی شينواري

زه په قول د پښتو درته ولاړه
ته نظر د ميني مه بدلوه هسي
هما ظفر احمدزی

زما له ياره يار له ما نه بېلتون نشته
بني جاني نوکان مه جنګوه هسي
مريم ساپی شينواري

نوربه وانخلم ستا نوم په محبت کي
خو رقيبه ته مي مه تنګوه هسي
ناجيه نجات

مخامخ کتلي نشي راته ياره
پټ په غلا مي انځور مه ښکلوه هسي
آسيه محرابی

ته قدم، قدم، قدم په کړليچونو
په ما لار د ميني مه کږوه هسي
معصومه غرنی

چي دې زړه رانه نور صبر شي جانانه
يو تعويذ په ګريوان وځړوه هسي
ناجيه نجات

که په نشت درته حساب يم پروا نشته
ما د تلي په تول مه کموه هسي
هما ظفر احمدزی

يو کتاب يو کتابچه او يو قلم
راته راکړه ښوونځي مه سوزوه هسي
عابده سپوږمی

که په نشت درته حساب يم پروا نشته
ما د تلي په تول مه کموه هسي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

هما ظفر احمدزۍ

لا پـخـوا دې پــه جـفــا ومه وژلې
نور د زهرو ګولۍ مه راکوه هسې
هما ظفر احمدزۍ

زه دا خـپـله تـنهـايي په کې رانغاړم
شاعرۍ نه مې زړه مه توروه هسې
معصومه غرنۍ

چې وعدې دې پوره نه کړې دروغجنه
پــه دروغـو مې زړه مه خوښوه هسې
آسيه محرابۍ

زما له شور زما له ښکلا زما له ښنګريو
ځـانـتـه نــوم د غـيرت مه جوړوه هسې
عابده سپوږمۍ

ستـا د مـيـنـې منظرونو ته ورګورم
زما د زړه برجونه مه ړنګوه هسې
معصومه غرنۍ

زه د ژونــد له ښـکلاګانـو ډکومه
ته د زهرو ګوټې مه راکوه هسې
عابده سپوږمۍ

د نامزدۍ کور ته وځکې وړه چې خوند کړي
تــولــه شپـه ګـازرې مـــه کـــرپـــوه هـسـې
مريم ساپۍ شينوارۍ

لا د سترګو په ليدو دې زړه کې ځريکې
بــلــه خــوا دې ستـرګې مـه اړوه هسې
هما ظفر احمدزۍ

پيغلتوب مې له ښنګريو نه خوند اخلي
پـــه لـمـنــه مې داغ مـه لګوه هسې
معصومه غرنۍ

تا چې څه وکړل ياره ښه دې وکړل
اوس د زړه دردونه مه وينوه هسې
خالده فوجون

د مـالـت د رواجونو اقتضا کې
زندګي راباندې مه تنګوه هسې
معصومه غرنۍ

زه مـلالـه زه افـغـانـه يم سـتـومانه
د غرور مانۍ مې مه ورانوه هسې
عابده سپوږمۍ

هم زما او هم دې خپل قسمت خراب وو
مــا يــوازې پـه بـخـت مـه ګرموه هسې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولــئ

هما ظفر احمدزئ

ژونده سترو سترو سترو کې دې ګوره!
نــرئ مــلا مــې راتــه مــاتــوه هسې
معصومه غرنئ

یا مې ونیسه په غېږ کې یا مې پرېږده
انـتـظـار بـانـدې مې مه ستړیوه هسې
هما ظفر احمدزئ

ژوندون ښکلی دی او خوند ورځیني اخله
پــه غـمـونـو زړګـی مــه پــړسوه هسې
مریم ساپی شینواري

ژونــده بس کــړه دا ظالمونــه کړاونه
نور مې زړه ته غوټې مه اچوه هسې
فرشته سهاک

ما سپوږمی سپوږمی دیدن درته راوړی
تــه بـلـئ نـــه غــیــره مــه تــاووه هسې
معصومه غرنئ

بنې! پام کوه چې یار زما په وار دی
لــه لـسـتـونـې جـانان مه کشوه هسې
مریم ساپی شینواري

بنې! حق به درویښیم چې څه دی
د مـېـړه وارئ مې مه تېروه هسې
آسیه محرابی

راشه، راشه ښــه په نره یاري وکړه
نن سبا کې مې ژوند مه تیروه هسې
معصومه غرنئ

د پـلـو پـېـڅـکـې درتولې کړه په هیلو
دا نهیلې غوټې  مه خلاصوه هسې
آسیه محرابی

زه په ګوډ او مات حالت درته لګیا یم
زما خـبـرې پــه شـعـر مه یادوه هسې
هما ظفر احمدزئ

د ازل په ویش خو زما څه ګناه نشته
لــه پـلـو مـې هـیـلې مـه تـویـوه هسې
معصومه غرنئ

زړه دې غــر، مـتـې مـظـبـوطې کړه ملالې
همت ټینګ کړه، پښې دې مه لرزوه هسې
عابده سپوږمی

چــې خـبـرې دې مــانــا نـــه لــري واوره
دا مرژواندې خولــه دې مه خوځوه هسې



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزی بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولــئ

آسیه محرابی

زه خمار خمار د یار په مینه
د شـرابـو خـمـار مه یادوه هسي
هما ظفر احمدزئ

زه نـشه، نـشه، نشه یـم په غزل کي
دا بی سر دوتار دي مه ډنګوه هسي
آسیه محرابي

په ګلاب ګلاب ځواني مي بخته ګوره
د خـزان لـوونـه مـه ګـډوه هسي
معصومه غزنی

خـوږ مـجلس مشاعره مو هم خوږه وه
خوب راځي نوره مي مه کړنګوه هسي
مریم ساپی شینواری

ګرانو لاړه شه ویده شه مخ دي ګل دی
پـر مـا ځـان زړګـیـه مه کنجوه هسي
آسیه محرابی

د سپوږمی زړه له خپل شعر نه ور تور نه کړو
ګـډې وډې نـــوري مـــه بـــادوه هـسي
هما ظفر احمدزئ

اې ټاګوره! تاته ولي زه یو خار شوم
تـا نـه جار شـمـه زړه مه بدوه هسي
آسیه محرابی

زه سپوږمی یم چي د شپي رڼا کومه
تـه تـیـارو کـي ډیـوي مه بلوه هسي
عابده سپوږمی

پـه تیارو کي حاجت نشته وه ډیوو ته
توري وربځي څادر مه غوړوه هسي
آسیه محرابی

چي په ژوند کي مي د هیلو قدر نه کړې
په شـنـاختي مي اوښکي مـه څڅوه هسي
مصعومه غزنی

یوه ورځ به مي زړه ټول در نذرانه کړم
پـه زړګي اندېښـنـي مـه تیروه هسي
عابده سپوږمی

عابدې ستا په غزل کي ډیر خوندونه
پـه مـا شـپـه د شعر مه اوږدوه هسي
معصومه غزنی

د سپوږمی په رڼا زه یمه مینه
غـرنـی شغلي دي مه بلوه هسـي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

آسیه محرابی

د سپوږمی میینان ډیر دي په آسمان کې
مـا د ستــورو سره مـــه جنګوه هسې
معصومه غرنی

مـینې، مـینې ټـولې مینې ته چې ګورم
محرابی په عشق کې مه ګرمه وه هسې
آسیه محرابی

بخته واوره! د وصال ښکلو شیبو کې
دا مـاشـوم زړګی مې مــه ژړوه هسې
معصومه غرنی

د سپوږمی غونډې رڼا د تورو شپو شه
پـیلـبو پــه شـان ځـان مه لړزوه هسې
آسیه محرابی

د پی مخو په حرم کې چې تیریږي
د نـظـر غشي دې مه څـنـډوه هسې
معصومه غرنی

ما دروبوله چې مینه دې حاصل کړم
غـرنی مــا پــه تـهـمـت تــوره هسې
آسیه محرابی

په دا بزم، دې خوږې مشاعرې کې
د مـاښام سـجده مې مه څـنډوه هسې
معصومه غرنی

په رینښتیا باندې مې وژنه پروا نشته
ما په دروغو باندې مه سوځوه هسې
پروانه ضیایي

زما دمینې له خماره ځان خـمار کړه
ما نشه کړه نور مې مه ښکلوه هسې
حوره سپیڅلې

ستا د مینې په خمار چې بیا نشه شم
بـیـا د شـونـډو پـیمـانې راکوه هسې
آسیه محرابی

چې دې شونډې زما له شونډو نه رنګ اخلي
پــه ډک جـــام پسې مې مــه ګــرځـــوه هسې
حوره سپیڅلې

زړه مې تنګ وو، ساه مې ډوبه ته چې نه وې
نـــور بـېـلـتون رابـــانــدې مــه لـــوروه هسې
آسیه محرابی

*****


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

دریمه مشاعره:

د ښځو په دریمه مشاعره کې دولس (۱۲) تنو مېرمنو ګډون کړی دی او ټول پنځوس (۵۰) بیتونه تخلیق شوي دي، په مشاعره کې د ګډون کونکو نوملړ دا دی:

حسینه ګل تنها، مینا نظري، خوړه شېرزاد، نعیمه غني، آسیه محرابي، حوره سپېڅلي، منزه شهید، هما ظفر احمدي، مریم صافي شینواري، شبېه ګهیځ، عابده سپوږمی، الینا بېکېټوا.

په تاند کې د خپرې شوې مشاعرې بشپړ متن دا دی:

# د ښځو باندار ګروپ مشاعره

## مې 5, 2019

راټولوونکې: اسیه محرابي

غزل: حسینه ګل تنها

لکه بـاران پـرې وریـږدمه خو روژه ماتېده
د شونډو جام ته رسېـدمه خو روژه ماتېده

د محبت په وخت آشنا دومره ناځانه نه وم
یاره په زړه دې پوهېدمه خو روژه ماتېده

1.ومه بې وسې درتلای نشوی کنې دا هم منم
چې ستا پــه مـینـه مړېدمه خو روژه ماتېده
مینا نظري

2. نن دې وې بل رنګ کانې کړې په ځان
زه درته ډېره پسخېـدمه خـو روژه ماتېده
خوړه شېرزاد

3. که لاره نه ما به لاره جوړه وله درتلم
د بلـې سـرتـه درخـتـمـه خو روژه ماتیده
نعیمه غني

4. زه همدا اوس لمده خیشته باران په غېږ ونیوم
کـنـه پـه غـېږ کـې درلـوېدمه خـو روژه مـاتېده
آسیه محرابی

5. ستا آوازه وه چې راځې به زه په تمه ومه
لـکـه د زرکـي نـڅـېدمه خـو روژه مـاتـېده
مینا نظري

6. ما به دې شونډې خامخا درنه خوړلې وې اې
لـه ډاره نـــه پـــه شا کـېدمه خـو روژه ماتېده
خوړه شېرزاد


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

7. ستا دوزخي میني ته دومره وم لیواله چي نن
پــه دي جنـت ورگــډېـمــه خـــو روږه مــاتــېده
نعیمه غني

8. ستا د خمارو سترگو زور خو ډېر و شک نه لرم
پــه کي بــي واره غــرقــېــدمــه خو روږه مــاتــېده
مینا نظري

10. تا راته دا ویل چي خوله دي راکړه زړه دي راکړه
ستـا پــه خــبــره پــوهــېــدمــه خـــو روږه مــاتــېــده
نعیمه غني

11. ما به له زړه نه دومره ډیر درته ژړلي وو خو
پـخپلـو اوښـکـو خـوړېـدمـه خـو روږه مـاتـېده
حوره سپیڅلي

12. ما به ظالم جانان ټوټي ټوټي ټوټي کړئ و
لـه خدایـه سـخـتـه وېـرېـدمـه خو روږه ماتېده
آسیه محرابي

13. د سترگو جنگ کي بایلله خامخا جانانه
خـو زه پــه تــا خـفـه کـېـدمـه، روږه ماتـېده
منزه شهید

14. د معشوقو تر سر مي جار کړي ټولي عشق دي زما
یــوي، یــوي نـــه ځـــارېـــدمـــه خــــو روږه مـــاتـېـده
آسیه محرابی

14. د چناري جانان په مینه مي قسم کړی و
زه تــري پیروتــه تــاویدمه خو روږه ماتیده
نعیمه غني

15. ما چي دي ټولو ته کړه شا زما خو ته یادېدې
اوس چـي درتــلــو کـي ځـنـډېدمه خو روږه ماتېده
مینا نظري

16. بانه چي کښېکاږم له سترگو مي وریږي ویني
د زړه پــه اوښـکـو ځـېـځـېـدمـه خـــو روږه ماتېده
آسیه محرابی

17. هغه له نازه ډکه غیږه هغه سر په ځنگون
زړه تــه ورو ورو در رسیدمه خو روږه ماتیده
هما ظفر احمدزی

18. ځنگه ساده یي چي در ټیټه نشوم ښه مي وکړل
پــه مـلا خــو خــود نــه مــاتــېدمه خو روږه ماتېده
مینا نظري

19. ما به وه هري معشوقي ته یو غزل لیکلای
لـه خپـل احساسـه شـرمـېدمـه خـو روږه ماتېده
آسیه محرابي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

20. ما ویل نن به د خپل شعر تنده پرې ماته کړمه
زه لـه خـبـر پـاتـېـکـېـدمـه خـو روژه مـاتـېده
مینا نظري

21. زه ړنګه بنګه ووم روانه مخامخ شو سره
نـوره پـه غـېږ کې ورلوېدمه خو روژه ماتېده
مریم صافي شینواري

22. ښکه مینه ښکه ماته په زړګي يې کړمه
نـن بــه اشـنـا تـه غـږېـدمـه خـو روژه ماتېده
شبېه ګهيځ

23. چي مازدیګر به شو نو ستا حسن شغلي کولي
ورتـه لــه لــوږې زنـګـېـدمـه خـو روژه ماتېده
عابده سپوږمی

24. ته وې ناروغ ما دي پوښتنه له نږدې ونکړه
زه بــه لـــه تـا قـــربـانـېـدمـه خـو روژه ماتېده
مینا نظري

25. داسي خو نه وه چي زړګی مي درته نه تپېده
پـتـه پـه زړه کـي ځـورېـدمـه خـو روژه مـاتــېـده
عابده سپوږمی

26. چي د د نيا شرمونه نه وای او چا نه لیدلی
ګـــرده ورځ تــانـــه تـاوېـدمـه خـو روژه ماتېده
مریم صافي شینواري

27. وایي چي مينه هر انسان ته د زړه سکون شي
زه بــه پــه دا هـم سـوځـېـدمـه خـو روژه ماتېده
شبېه ګهيځ

28. ستا د ښایست په لیدو زه له جامه ولوېدمه
لـکـه مـیـنـا نـسـکـورېـدمـه خـو روژه ماتېده
عابده سپوږمی

29. یوه روژه بله غرمه بله د مینې تنده
په غرمه نه ایساریـدمه خو روژه ماتیده
نعیمه غني

30. که دي لږ نور هم راکتلي وای باور لرمه
د نـظـر سـینـد کي ډوبـېـدمـه خو روژه ماتـېده
نعیمه غني

31. که مرور هم شي اشنا دا به په جار وایمه
اشـنـا، اشـنـا زه ځـارېــدمــه خـو روژه ماتـېـده
شبېه ګهيځ

33. سهار سهار شیبې د مینې د چا وچي شونډې
مـاښـام، مـاښـام پـرې خـوریـدمه خـو روژه ماتیده
نعیمه غني


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

33. بهر باران ځمکي لمدي او د جانان ستونه
لــه اِرادي نــه غــورځــېدمـه خو روږه ماتېده
مریم صافي شینواري

34. د غریبی یا د خانی پروا دې نه لرمه
د زړه په سر دې ویډېمه خو روږه ماتېده
مینا نظري

35. زه ووم د بام په سر ولاړه چې راویې کتل
نــوره لــه بــامـه ورلـوېدمـه خـو روږه مـاتـېده
مریم صافي شینواري

36. ته چې د بام پر سر ولاړه وې سترګک دې وهه
لــه شـرمــه سـره او شـنــه کـېدمـه خـو روږه ماتېده
آسیه محرابي

76. لکه باران، لکه شبنم چې مې په زړه ورېدې
زه لـکـه ګل چې غـوړېـدمـه نـو روږه مـاتـېده
الینا بیکېټوا

38. تا سین کول ما درته هر ځلي مسیج کولو
ستا خـامـوشی تـه ځـورېدمـه خو روږه ماتېده
مینا نظري

39. آستا برو ساز وو چالان هم مي جانان په خنګ کې
نـــوره پـــه نـــاز روانـــېـدمـــه خـــو روږه مـاتـېده
مریم صافي شینواري

40. نن په جرګه کې مې له ځانه خپل چاکلیټ جوړوه
د نـجـونـو خـولـو کـې ژوېـدمــه خـــو روږه مـاتـېده
آسیه محرابی

41. لا خو روژې ته دې شپې پاتې نو تا ولې ویل
چې دې پـه شـونـډو ښـکـلـومـه خـو روږه مـاتـېده
مینا نظري

42. صنمه ستا د زلفو دم نشته ناروغه به شم
کـنـه مـدام پـرې لـوېـېدمه خـو روږه مـاتـېده
مریم صافي شینواري

44. د معشوقو تر سر مي جار کړې تولي عشق دي زما
یـوې، یـوې نــه ځــارېــدمـــه خـــو روږه مـــاتــېـده
آسیه محرابی

45. بانه چې کښېکاږم له سترګو مي وریږي وینې
د زړه پــه اوښــکــو څـېـڅـېدمـه خـو روږه ماتېده
آسیه محرابی

46. تا سین کول ما درته هر ځلي مسیج کولو
ستا خـامـوشی تــه ځــورېدمه خو روږه ماتېده
مینا نظري


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

47. صنمه ستا د زلفو دم نشته ناروغه به شم
کـنـه مـــدام پـــرې لـــوېـېـدمه خو روژه ماتېده
مریم صافي سینواري

48. ما ستا له پاره ثوابي روژې وختي ونیوې
کـنـه لـه لـوږې مـره کـېدمه خـو روژه ماتېده
آسیه محرابی

*****

خلورمه مشاعره:

په دې مشاهره کې دیارلس (۱۳) تنو ګډون کړی وو او په ټول کې څلورشپېته (۶۴) بیتونه تخلیق شوي دي.

د مشاعرې د ګډون کونکو نومونه دا دي:

حسبه وفا، معصومه غرنی، نوشابه آشنا، عابده سپوږمی، آسیه محرابي، تورپیکی غرنی، سپوږمی مهمنده، نرګس لعلي، شبېه ګهیځ، رڼا اسدزی، نعیمه غني، هما احمدزی او مرسل احودزی.

## د نجونو سملاسي مشاعره

اګست 15, 2020



سملاسي مشاعره

غزل: حسینه وفا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**ملامته يم خطا راڅخه شوې**
**يو ځل نده په بيا، بيا راڅخه شوې**

**تر ابده کړم قيدي هوا د نفس**
**له ازله وه ګناه راڅخه شوې**

حسينه وفا

د يو چا د ميني زور وو په ما داسي
چي اظهار کي ابتدا راڅخه شوې
معصومه غرنی

اوس يي مينه کي مجرمه ګڼل کيږيږم
تش کتو کي يي ګناه راڅخه شوې
نوشابه آشنا

خوشحالي د هر زړګي زما خوښي ده
او په هر مړي ژړا راڅخه شوې
حسينه وفا

زه د پېغلي پښتني د تيکري پيڅکه
چي په هره لار حيا راڅخه شوې
عابده سپوږمی

ستا په دومره بېرخيو هم سربېره
د ژوند هر ګام کي وفا راڅخه شوې
عابده سپوږمی

دي ګناهو کي يم درګېده ګناهکارې
اې ګناه ډېره بيا بيا راڅخه شوې
آسيه محرابي

نور به څوک ګڼم شريک د خپلي ميني؟
ستا په نوم چي اقتدا را څخه شوې
نوشابه آشنا

راته ووايه چي څېرته يم پره شوې؟
او په څه کي نا روا راڅخه شوې؟
حسينه وفا

اې هرځل دي چي په پته راکتلي
اې هر ځل د زړه درزا راڅخه شوې
معصومه غرنی

زه د ميني محبت له ښاڅکو جوړه
نفرتونو ته مسکا راڅخه شوې
عابده سپوږمی

بېوسي ده که دي زور دی د زړه درده
هر دردمن ته مسيحا راڅخه شوې
نوشابه آشنا



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

زه يې ورکړم وه ژاولن ته خدايه خبر کړې
ما ويـل نــه يې کـوم، نـانا راڅــخــه شوې
آسيّه محرابي

د يار غم په زړه پرهړې جوړې کړي
خدايزده څـرنـګه خندا راڅخه شوې
تورپیکی غرنی

جهالت ته دې پردې در جوړومه
زه ډيوه يــمــه رنـا راڅخه شوې
عابده سپوږمی

زه يې اوس هم پــه دعا کی يادومه
که له درده يی ښيرا راڅخه شوی
سپوږمی مهمنده

چې پلو کې د آسمان ستوري راټول کړم
دغــه هــيـلــه پــه رښـتـيـا راڅخه شوې
معصومه غرنۍ

ته ښېرې کړه زه به خپله چاره کړمه
د زړه تــل نــه تل دعا راڅخه شوې
عابده سپوږمی

ستا د مـيـنـې د ښـايـست لــه برکته
د ډيوې په رنګ رڼا راڅخه شوې
حسينه وفا

مړاوو سترګو کې يې بيا د مينې اور وو
ګــونــدې بـيـا کــومــه ادا راڅخه شوې؟
نوشابه آشنا

زه رنـا يـم د تيـارو په زړه کې بله
خو افسوس بله مانا را څخه شوې
عابده سپوږمی

ستا تر پلونو مې غاټول زړه غوړولی
مـحـبـت کـې انـتـهـا راڅــخــه شـوې
معصومه غرنۍ

چې زما جانان ناځوانه بی وفا وي
خـلـک وايي چې جفا راڅخه شوې
نرګس لعلي

کـلـه، کـلـه د يــادونــو آيـيـنې ته
ناخاپي غوندې ادا راڅخه شوې
معصومه غرنۍ

دا منمه غنمرنګه ته ښايسته يې
چې دې ويـنـم الله راڅخه شوې
عابده سپوږمی


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

چي دوستي بيا ملګرتيا او مينتوب شو
دا لـــړۍ يـــو څـــه رسوا راڅخه شوې
شبېه ګهيځ

نه وياړلي، نه غازي يم، نه يم ستره
صرف په مينه کې غزا راڅخه شوې
آسيه محرابي

کله ګورمه ايينې کله ستا مخ ته
انتخاب کې اشتباه راڅخه شوې
توريپکی غرنی

بيا ودان کړې ته د مينې مجلسونه
دا دعـــا په هـره سا راڅخه شوې
شيبه ګهيځ

دوه مـخې نه مې توبه ده خفه نشې
د حق چيغه تل رسا راڅخه شوې
عابده سپوږمی

ما چې حسن درښکاره کړ نور هيڅ نه و
نــافـهمـی کـې تـجـلا راڅـخـه شـوې
آسيه محرابي

چې قامت يې له چينار سره تشبه کړم
څه په خوند کې ملګرتيا راڅخه شوې
شبېه ګهيځ

ما شغلي چې د خپل حسن ځلولې
ستا په مينه کې بـلا راڅخه شوې
آسيه محرابي

نـه نـو تـــه په دی خبره باور نه کړې؟
تش ديدن کې د زړه غلا راڅخه شوې
رنا اسدزی

د يو شړکنده باران ځېو ځېو ته
ليونۍ غوندې ګډا راڅخه شوې
معصومه غرنی

نه ممکن دی چې تا يار کړمه ظالمه
پـرون هـو او نـــه سبا راڅخه شوې
آسيه محرابي

مـا ويـل مينه بـه ساتم خبره نه وم
پدی ښار کی واويلا راڅخه شوی
سپوږمی مهمنده

ستـا غــزلـــو تـــه اتـــڼ کـولې نـه شم
خو په شوق شوق کې نڅا راڅخه شوې
آسيه محرابي



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

کمه مه ګنه ما مور یم زه یم ښځه
د نــرۍ ټــولـه ښکلا راځخه شوې
عابده سپوږمی

دا چې نن سزا وینم وخت یې نه دی
یوه ګناه ده چې پخوا راځخه شوې
نعیمه غني

ټولـه شپه مې ستا خیالونه تنخنولي
داسې شوخه مشغولا راځخه شوې
معصومه غرنی

وې توبه خدایه ، توبه بیا داسې نه کړم
د یــار غیــرې تــه رضـا راځخه شوې
معصومه غرنی

تــه زمــا د مینې کله وې لایقه
انتخاب کې اشتباه راځخه شوې
هما ظفر احمدزی

ستا د مـینـې پـر هـرونه مې ګنډل خو
ستن او تار کې لړ سپما راځخه شوې
آسیه محرابي

زه به لاړه شم شربت به را تیار کم
میلمنو ته چې ښـا ښـا راځخه شوې
حسینه وفا

زما غزلو نه ته جوړې کړه سندرې
ستا هنر ته تل واه واه راځخه شوې
عابده سپوږمی

د شاعر د غزل تورو ته معیار یم
د یو چا د شعر مانا را ځخه شوې
نوشابه آشنا

نـوره پـتــه، نــالـیدلي راغلم بس یو
د بنګړیو شرنګ شرنګا راځخه شوې
آسیه محرابي

ټوله مینه مې له تانه صدقه کړه
بیوسی کې دا سخا راځخه شوې
نوشابه آشنا

د خــوږې دیــرې په ښکلو غزلونو
د یو دوو کرښو املا راځخه شوې
سپوږمی مهمنده

ستا د حسن لمونځ به بیا کړمه ادا زه
نـاچــارۍ کـې دا قضا راځخه شوې

عابده سپوږمی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د زړه وینو نه به رنګ د غزل درکړم
عشقـه دغسې ســلا راخــخــه شــوې
معصومه غرنۍ

معـشـوقــو! د زمـزمـو سره قسم دی
سارې، ګا، ما، دا، نې سا راخخه شوې
آسیه محرابي

په شیبه شیبه تاوان کې یې ورکېږم
د زړه بیـه کـې سودا راخخه شوې
معصومه غرنۍ

ما له مینې نه توبې ایستلې یاره
غلطۍ کې خاماخا راخخه شوې
آسیه محرابي

څـه پـه پـټـه رواجـونو یمه خوړلې
څه په پټه کې چوپتیا راخخه شوې
معصومه غرنۍ

ما چې سر ټیټ کړ په تا اې ځواني مرګه
پــه پـښـتـون نــوم د ابـا راخــخــه شوې
آسیه محرابي

د پولیو ژرب مې ورور په ټوپک ولې
پـــه واده کـــې یـې نـڅا راخخه شوې
معصومه غرنۍ

راشه یو ځلي بیا ټینګه غیره راکړه
سـتــا د غیرې اشتیها راخخه شوې
هما ظفر احمدزی

ته یې زړه پورې کلک ونیسه چې روغ سي
پـــه شعـرونـو کـې کـیمیا راخخه شوی
مرسل احمدزی

د غزلو نبض مې هرچاته مالوم دی
یکې ستا د زړه درزا راخخه شوی
مرسل احمدزی

تـه مزې کـوه کـرار کـینه وطن کې
له دې ځایه اوس هوا درخخه شوی
هما ظفر احمدزی

آزاد شعر کې دې پستې ستاېلی نه شم
په غزل دې شور غوغا راخخه شوی
آسیه محرابي

*****

پنځمه مشاعره:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په دې مشاعره کې دیارلس (۱۳) شاعرانو ګډون کړی وو او څلورشپېته (۶۴) بیتونه یې تخلق کړي دي.

د دې مشاعرې د ګډونه کونکو نومونه په لاندې ډول دي:

معصومه غزنی، مریم صافی شینواري، مقدسه احمدزی، نعیمه غني، آسیه محرابي، سهیلا حسرت نظیمي، سپوږمۍ اکبرزی، حوره سپېڅلي، عارفه بهارت، ملاله میوند، نجیبه واجدي، ضحرین سهار او عارفه عمرلور بشیر

## د ښځو باندار ګروپ سملاسي مشاعره

سپتمبر 24, 2018



پیل د معصومې غزنی په غزل:

مه شینده اغزي مې د مزله په لار
ژونـده ګـلابـونو نــه درتـیره یم

تـه مې پـه پلو کې زړه راواچوه
زه لــه رواجــونـو نــه درتیره یم
معصومه غزنی

ما سره که ژمني بیا له سره کړې
تــپــرو دروغـونـو نــه درتـېره یم
مریم صافی شینواري

ژوند دې سم دوزخ وي خو هغه دې وي
ربـــــه! جـنــتـــونـــو نـــه درتـېره یم
مقدسه احمدزی



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ته یوه دروغجنه لار راوښییه
زه مي له خوبونو نه درتیره یم
نعیمه غني

سپینه یم چي مینه بې پروا کوم
زه لــه تـهمـتـونو نه درتېره یم
آسیه محرابي

سترګي دي ډېوي دي راته وګوره
یــاره څــراغــونــو نــه درتېره یم
مریم صافی شینوارۍ

ته مي چي ارمان وي او پالمه دي
ټــولــو ارمــانــونـو نه درتیره یو
نعیمه غني

ژونده بس همداسي چي یم پرې مي ږده
زه نـــورو خـــونـــدونـو نه درتېرو یم
مریم صافی شینوارۍ

واچوه یو دوه جامه شراب ساقي
زه لــه ګـنـاهــونــو نه درتېره یم
سهیلا حسرت نظیمی

ستا په ځنګ کي ژوند دی او ساه ګاني دي
نـــــورو راحــتـــونـــو نـــه درتـېـره یم
مقدسه احمدزۍ

بیرته مي ډهلی ته که څوک ولیږئ
دي پــوهــنـتـونونو نه در تیره یم
سپوږمی اکبرزی

یو وار راته وخانده پخلا مي کړه
تېـر د زړه زخمونو نه درتېره یم
مریم صافی شېنوارۍ

ستا حیراني سترګي زما خیالي ادا
وایـي خـلـه نــازونـو نه درتېره یم
مقدسه احمدزۍ

ناز کوه, ادا کوه, عېشوي کوه
نــور نــزاکـتـونو نه درتېره یم
آسیه محرابی

ما له کبره چا ته تر خوا نه کتل
تــا تــه غروورونو نه درتېره یم
سهیلا حسرت نظیمی

دا د محبت ګناه مي مه لیکئ
ټــولــو ثوابونو نه درتیره یم
نعیمه غني


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

سر چي وي زما او ستا خيالي سينه
نــــرمـــو تـوشكـونو نه درتېره يم
مريم صافی شينواری

مينه مي د ژوند په بيه واخيسته
راشـه خـمـارونو نه در تيره يم
حوره سپيڅلي

راشه يـو ځل بيا خو لږ راغاړيـوزه
ورک کړه، له شرمونو نه درتېره يم
سهيلا حسرت نظيمي

ته دي كه رباب په ځنگانه کېږدې
زه هـم غــزلــونـو نــه درتېره يم
مريم صافی شينوارې

ته راتـه ربـاب سره تپي كوه
زه له کنډوونو نه در تيره يم
نعيمه غني

هي، گوره په لوړ دېوال راوخېژه
زه له سترو وروونو نه درتـېـره يم
سهيلا حسرت نظيمی

ته تر دروازې زمونږ د كور راشه
زه هـم پـټ پـټـونـو نه درتېره يم
مريم صافی شينوارې

ژونده! فقط يو گړئ راحت راکړه
زه د ارمـانـونــو نـــه در تـيـره يم!
عارفه بهارت

خلكو ته په جار وايم چي يار مي دی
وركـي كـړه شـرمـونـو نه درتېره يم
مريم صافی شېنوارې

ما ته دې را اوگوري لالی كه وي
ځــه ســاقي جـامـونـونـه درتيره يم
ملاله ميوند

ستا مـينـي نـشه کـړمه زنگيـږمه
ټولو نور خوندونو نه در تيره يم
حوره سپيڅلي

لار د محبت كي دي د تل په شان
راكـړه آزارونــو نــه در تـيـره يم
عارفه بهارت

مينه گـنـاه نه ده مـا خو کړي ده
نور د قيد شرطونو نه درتېره يم
آسيه محرابی


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

مسته په شرنګا په اتڼ ګډه سوم
خپلو قدمونـو نـه درتـېره یم
ملاله میوند

یو وار راته وخانده پخلا مې کړه
تـېر د زړه زخمونو نه درتېره یم
مریم صافی شپنواري

ستا لپاره راغلمه اړتیا مې وه
تا ته له شعرونو نه درتیره یم
حوره سپیڅلي

ته مې یې د مینې او وفا هستې
تـا تـه غـیرتـونو نه درتېره یم
آسیه محرابی

ته دې تر سهاره کیسې وکړه ځه
زه مې لـه خـوبـونو نه درتیره یم
ملاله میوند

راشه ولور نه اخلو واده وکړه
دې بدو دودونو نـه درتـېـره یم
مریم صافی شینواري

ستا یــاري لـــه بنو بـدو نه وویستم
ورک کړه له رازونو نه درتیره یم
ملاله میوند

زه غزل سندره کړم, نغمه یې کړم
نــثـر او نـظـمـونــونــه درتـیره یم
آسیه محرابی

ما دې د زړګي زندان ته واچوه
نــورو زنــدانــونو نه درتېره یم
مریم صافی شینواري

راز د مـیـنـې ووایم که نه وایم؟
زړه کې پټ ساتلو نه درتیره یم
آسیه محرابی

تاکې هم پریمانه نیمګړتیا شته دې
زه دې لـــه عـیـبـونو نه درتیره یم
ملاله میوند

ستا په صداقت باندې باور لرم
مــړه! قسـمـونـو نه درتېره یم
مریم صافی شینواړي

بیا به مې خپل سر ستا په اوږه کېدم
ستـوغـو ځــوابــونــو نــه درتېره یم
مریم صافی شپنواري


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

تور او سپین تصویر دې راته ولیږه
گـرانــه د رنـگـونـو نـه درتـېـره یم
مریم صافی شینواري

راشه غرنی غزل ته شرنگ ورکړه
ستـرې شـوم بـیـتـونـو نه درتیره یم
آسیه محرابی

ته که د یعقوب د سترگو دید شي نو
زه لــه کـمـیـسـونـو نــه درتــېـره یم
مریم صافی شینواري

زه د زلـیـخـا غــونــدې مئینه یم
زر, زیور, قصرونو نه درتیره یم
آسیه محرابی

عشقه! په یو غرپ نشه مې واړوه
خـدایـږو له جامونو نه درتیره یم
معصومه غرنی

سترگې په دیدن خړوبوم یاره
تورو کـجـلـونـو نــه درتېره یم
مریم صافی شینواري

عشق رسوا رسوا شهره شهره کړمه
نــوم د پـلار نـیـکـونـو نه درتیـره یم
آسیه محرابی

ته دې پل زما په خوار انگړ کیږده
زه میـخـک گـلـونـو نـه درتـېـره یم
مریم شینواري

اوس به گریوان خیري خیري خیري کړم
تــورو حــجــابــونـــو نـــه درتـیـره یم
آسیه محرابی

صبر د ایوب خو زه کوی نشم
گله لـه صـبـرونـو نه درتېره یم
مریم صافی شینواري

ته راته په زړه کې خونه جوړه کړه
زه لــه مـحـلـونـــو نـه درتیـره یم
معصومه غرنی

تا یو ځل د دید غوښتنه وکړله
زه لـه واټـنـونـو نــه درتیره یم
نجیبه واجدي

ته دې فکر ووایه قربـان دې شم
زه مې له سوچونو نه درتېره یم
مریم صافی شینواري


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

ځوک دي ليوني ځوک شاعران کړله
عشقـه د ظـلـمـونـو نـه درتـېـره يم
ضحرين سهار

تپ مي د زړه جوړ شي چي راوګوري
نـــورو مـــرهـمـونـــو نـه درتېـره يم
مريم صافی شينواري

ژونده بس يوه شيبه د ميني شه
ستا اوږدو کلونو نه در تيره يم
عارفه عمرلور بشير

ته مي له ځوانی نه ټولوه شباب
زه لـــه تـهمـتـونو نه درتيره يم
معصومه غزنی

دلته نور ناوخته دی ښادمني شئ
ښکلـيو بـنـدارونـو نه درتېـره يم
مريم صافی شينواري

تـــه مي پـه شـيـبـي د مـيـنـي واړوه
زه له مياشت ، کلونو نه درتيره يم
معصومه غزنی

يو جوړه راحته کرمچ غواړمه
لـوړو سيـنـډلـونو نه درتېره يم
مريم صافی شينواري

زه غريبه خواره پسي نه لرم
تاته خپل بوټونو نه درتيره يم
آسيه محرابی

*****

شپږمه مشاعره:

په دي مشاعره کي يولس (١١) تنو شاعرانو ګډون کړی او په ټول کي يي اته دېرش (٣٨) بيتونه يي تخليق کړي دي.

د مشاعرې د ګډون کونکو نومونه دا دي:

نعيمه غني، پاکيزه آرزو، خوږه، آسيه محرابي، حوره سپېڅلې، اسما لمر، شفيقه پښتونزی، عابده سپوږمی، مينه صابر، شبېه ګهيز او نرګس صافی.

## سملاسي مشاعره



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولــئ

13 د جون 2019



پیل د نعیمې غني په غزل:

لکه څوک چې له جانانه غېږه تاو کړي
د چا یاد داسي له ما نه غېږه تاو کړي

بې کوری سختي یخنی را ایسار کړی
خوار یتیم له خپله ځانه غېږه تاو کړي
نعیمه غني

ته هم ما غوندې په خوله یې هر کلی کړه
خفه کېږم چې څوک تا نه غېږه تاو کړي
پاکیزه آرزو

زه مي سترګي بل ته نه وراړوم نو
دی به څنګه له بل چانه غېږه تاو کړي؟
خوږه

چي غمجنه یم هیڅ څوک مي پروا نه کړي
په خوښی مي ټول خندانه غېږه تاو کړي
آسیه محرابي

وایم خدای خبر که بیا سره یو ځای شي
چي په تلو کي څوک له چانه غېږه تاو کړي
نعیمه غني

دا دنیا اوس ښه چلیږي په چلونو
په چل ول به هسي تا نه غېږه تاو کړي
آسیه محرابي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

پاس زیارته شین تیکری به دې جنده کړم
نـعیمـه کـه لـه ارمـانـه غیـرہ تـاو کـړي
نعیمه غني

نـعیمـي غني! غـني یـې لا غني شي
که ته یې څوک له مانه غیږ تاو کړي
آسیه محرابي

خو که خدای راسره مل وي تر تا رسم
ان بـیـلتون به له بریا نه غیږه تاو کړي
حوره سپیڅلې

چې یې سر پر محراب ایـښئ زاهد نه دی
چې ځانمرګي کمکي ځوانه غېږه تاو کړي
آسیه

چا تـړلی د عشق اوښـکو تـه بندونه
وایه څوک به له بارانه غیږه تاو کړي
نعیمه غني

چې مطرب ورته د میني رباب سُر کړي
بس نـغـمـه له غزلخوانه غـېږه تاو کړي
آسیه محرابي

نـن مې بیـا د چا پـه یـاد دومره ژړلي
لکه وربځ چې له اسمانه غېږه تاو کړي
اسما لمر

داسي لـېـرې دې له ځـانـه بـې پروا کړم
لکه دښت چې له کاروانه غېږه تاو کړي
آسیه محرابي

له یادو دې غیږه تاو کړم دومره خوند کړي
چې پــه ویـښـه لـه اشـنـا نـه غیږه تاو کړي
حوره سپیڅلې

اوس بــاور مــې د هــر چــا لاسه ور کړ
بس خپل ځان مې له خپل ځانه غېږه تاو کړي
آسیه محرابي

د ژوندون په کړلیچونو کې راګیره
اراده مې له تـوپـانه غیږه تاو کړي
نعیمه غني

د جانان د هرکلي په شوق روان دي
ګلابـونـه لـه بـاغوانه غیږه تاو کړي
نعیمه غني

د توبو لاره موندل چې شي تري ورکه
ارمـانـونـه لــه زنـدانـه غیږه تاو کړي
شفیقه پښتونزی


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزی بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

د ژوندون خواريو کړی داسي چل دی
يـــار له ياره سرګردانه غېږه تاو کړي
عابده سپوږمی

ستا د سترګو تور کي کور جوړول غواړي
چي لـيـمي يـې لـه مـژګانـه غـيـږه تاو کړي
شفيقه پښتونزی

دلـتـه خـوار يـتـيـم نهر دی ويده شوی
شيخ به څنګه له ايمانه غيږه تاو کړي
عابده سپوږمی

چي د شک په غېږ لومو يې راګېر کړم
ولي مـا نـه بـدګـمـانـه غـېږه تاوو کړي
آسيه محرابي

سره لاسـونـه، ډکي ليچي په اختر کي
بختوري له خپل ګرانه غيږه تاو کړي
نعيمه غني

تـنـهـايی لـه پـردېـسی دی رنـګ اخيستی
سری څه وکړي له چانه غېږه تاو کړی؟
عابده سپوږمی

ستا خـوږي، خـوږي خبري د پرديو
ستا غمونه بيا له مانه غيږه تاو کړي
نعيمه غني

چـي د لـمـر او د سـپـوږمـی مـقـابـلـه شي
ستوري تت شي له اسمانه غېږه تاو کړي
عابده سپوږمی

نـه تـرخي، تـرخي خـبري دي کړي ماته
خو خوږي دي له جانانه غېږه تاوو کړي
آسيه محرابي

سپور نظر مي ستا سپرلي نظر ته خاندي
لـکـه للمـه لـه بـــارانـــه غـېږه تاو کړي
عابده سپوږمی

د مضر انسان نه ډار لړ څه په کار دی
لکه مار چي له انسانه غېږه تاوو کړي
آسيه محرابي

د سپـيـن لـمر مخ بی ديدنه رانه تير شی
تور وريځ چی له آسمانه غيږه تاو کړی
مينه صابر

د پيالو په ګړنګولو چي مابنام شي
خمارونـه له رندانه غيږه تاو کړي
عابده سپوږمی


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

د دنیا هره خوښی ځان ترې پردی کړی
د ژوند غم چی له انسانه غیره تاو کړی
مینه صابر

چې نـهیلـي شي وګـړي له وګړو؟
شي ناتوانه له قرآنه غېږه تاو کړي
آسیه محرابي

نــور بــه ځــنــګـه شو خوشحال له ډېره غمه
دومره غم کې څوک له چا نه غېږه تاو کړي؟
شبېبه ګهیز

چې مې سر په بـیـه غوارې ورکوم یې
څوک په مینه به اسانه غېږه تاو کړي؟
شبېبه ګهیز

چې نـه مـور لـري نـه خور او نه هم یار
زړه چې ژاړي سړی چانه غیږه تاو کړی
نرګس صافي

*****

اومه مشاعره:

په دې مشاعره کې پنځلس (۱۵) تنو ګډون کړی دی او په ټول کې یې درې شپېته (۶۳) بیتونه تخلیق کړي دي.

د ګډون کونکو نومونه یې دا دي:

مرسل احمدزی، نعیمه غني، فرشته غني، آسیه محرابي، آمنه فنا، نوشابه آشنا، عابده سپوږمی، سهیلا اصغري، خالده فوجون، حسینه وفا، ولوله عنایت تره کی، مهرتاج، سارا فوجون، نرګس صافی او دُرخانی.

## د افغان ښځو او نجونو في البدیهه مشاعره

مې 17, 2020


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ



د یوشمیر افغان نجونو او میرمنو سملاسي مشاعره

غزل:

مرسل احمدزۍ

زه لـه خپلـي تـلـوسي درپسي راغلم
زنـدګۍ، لـه انـدیښنې درپسي راغلم

زه له خپل تصویره ماته غورځم
لـه ویشـتلـي آیـنـي درپسـي راغلم

نعیمه غني
څه پـه ورکـو لارو لاړې مسافره
څه بې نښې نښانې درپسي راغلم

فرشته غني
پـه ځـان نـه ومـه خـبـره، زړه مـیـنـئ شو
پښې مې لوښې تر کوښې در پسې راغلم

آسیه محرابي
ته په سر دې کړه رباب خیالي مطربه!
زه پـه لی د ډهل تـبلـي درپـسي راغلم

آمنه فنا
زما د اوښکو باران تم نه کړلي لاړې
پـه ژړا تـر دروازې درپـسي راغلم

نوشابه آشنا
تـا کـه هر څومره کول بغاوتونه
زه په مینه دردانې درپسي راغلم


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

عابده سپوږمۍ
ما د مينې په هر راز باندې خبر کړې
له هر لوري هر زاويې درپسې راغلم

سهيلا اصغري
تـا پـه ښـټ نـه راکتل نه دې ليدلم
زه په تېرې سلسلې درپسې راغلم

آمنه فنا
ستا تر غېږې رسېدل مې لوی مرام و
پـه سـکروټو ببلې پښې درپسې راغلم

آسيه محرابي
پيشلمی په خوب ويده وې، وېښ مې نه کړې
روژه مـات تـه شـونډې سرې درپسې راغلم

خالده فوجون
تـــه چـې کــلـه لـه تـهمته ويرېدلې
مجبورنی نه زه د شپې درپسې راغلم

نعيمه غني
ای د وخت په غبارو کې ورکه ياره
زه لـه کومـې زمـانې درپسې راغلم

عابده سپوږمۍ
ته له خپلې خولې نه تېر شولې فنا شوې
زه پـــه خپـلـې وعـدې درپسې راغلم

سهيلا اصغري
تا پـه لاره مشـالونـه دې بل کړي
زه په پته لکه غلې درپسې راغلم

عابده سپوږمۍ
ته سندرې وايه شور وکړه شرنګېږه
زه پـه ښکلې زمـزمې درپسې راغلم

آسيه محرابي
راسئ وګـورئ زموږ خوږې دېرې ته
خوږې، مورې اې ترلې درپسې راغلم

آمنه فنا
ته وې ترږی، ترږی، ترږی رانه تللی
زه ځپې ځپې ځپې درپسې راغـلـم

نعيمه غني
ته سجدې تـه عبادت ته مې معبود کړې
مخ مې ستون کړ له قبلې درپسې راغلم

آمنه فنا
بېلېدل مې درنـه نه شي ای وجوده
لکه سيوری درپسې درپسې راغلم


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولـئ

نوشابه آشنا
لکه تنده کې سراب پسې شي منده
سولې داسې بې اسرې درپسې راغلم

آسیه محرابي
ستا کتاب کتاب خبرو کې څه نشته؟
زه د عشق له فلسفې درپسې راغلم

حسینه وفا
ما د وخت ځپو کې وبایللې ژونده
رانه تللې زمانې درپسې راغلم

نوشابه آشنا
ته یادونه د هوا په ځپو راوړه
د ګلابو له پردې درپسې راغلم

آمنه فنا
په څادر دې راته اوښکې وچې نه کړې
په ژړا مې سترګې سرې درپسې راغلم

حسینه وفا
بې له تانه یتیمان واړه لفظونه
د غزلو خزانې درپسې راغلم

فرشته غني
شپه تیاره ده زړه مې تا پسې تخنیږي
سپین تېر له دریځې در پسې راغلم

نوشابه آشنا
د هجران د تورو شپو ملنګ زړګیه
لکه ماتې آئینې درپسې راغلم

آمنه فنا
کاغزې بدن مې سوی د عشق اور دی
اوس اِیرې، اِیرې اِیرې درپسې راغلم

فرشته غني
کلیوال راپسې بد وایي لګیا دي
ښه په کلکې ارادې درپسې راغلم

حسینه وفا
د سبا پلو کې پټ د زړه مرهمه
زخمي کړې یمه شپې درپسې راغلم

فرشته غني
ته وا دومره مینه کله پیدا کیږي
قسم خورم په سیپارې درپسې راغلم

نوشابه آشنا
که هر څو دی کړم ستومانه زما ژونده
لکه سیند څپې، څپې درپسې راغلم


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

فرشته غني
نجوني ټولې ويدې شوې غم يې مکړه
ډېوې سترګې مې رڼې درپسې راغلم

خالده فوجون
پـه جادو ستـا د لفظونو کې راګېره
نا خبره دې له دوکې درپسې راغلم

فرشته غني
تا چې دوې سترګې په بل کې خښې کړې
خـود بـه درکـړمـه دوکـې، درپسې راغلم

حسينه وفا
د وخـتـونـو پـه زنځـيـر کې وم تړلې
راياد شوې دې وعدې درپسې راغلم

ولوله عنايت ترکي
د پيزوان ډنډر مې مات ده ځم زرګر ته
وارخـطـا پــه دې پـلــمــې درپسی راغلم

آمنه فنا
ای زمــا د لـغـوړني مـيني ياره
وهم چيغې او نارې درپسې راغلم

مهر تاج
زه پوهېږم چې باور کول دې پرېښي
ای! د بلـې زمـانـې درپـسـې راغـلـم

فرشته غني
فريادونه مې په ستوني کې وچ شوي
ځـکـه کـړمه شوګيرې درپسې راغلم

حسينه وفا
د شاعرۍ ګوتې وچې شوې ويده ده
دومـره ډېـرې هديرې درپسې راغلم

سهيلا اصغري
څه تياره وه خوره شوې په کوڅه کې
مخ دې بلې کړې شغلې درپسې راغلم

آسيه محرابي
نور به هېڅ درته په خوله نه راوړم ياره
خـيـر يـو ځـل کـه په ګېلې درپسې راغلم

فرشته غني
اندامونه مې سوځېدلي سره غرمه ده
د بـلـې لـه کـټـارې درپـسـې راغـلـم

آمنه فنا
ها چې ځان دې رانه هېر کړ هغه ته وې؟
چـې د زړه لــه دريـڅــې درپسې راغلم


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

سارا فوجون
لېوالتیا ستا د لیدو زړګي ته راغله
په یوه منډه لوڅي پښي درپسي راغلم

ولوله عنایت تره کي
تا ویل ته به مي تل د زړګي سر یې
دروغجنه په دعویي درپسی راغلم

فرشته غني
ګیلي مه کوه د دوو ورځو دنیا ده
محبت او حوصلي درپسي راغلم

ولوله عنایت تره کي
بیګنی شپه مي په خوب کي وی راغلی
په تعبیر د هغي شیبي درپسي راغلم

آسیه محرابي
ستا لیدو ته توره شپه په پټه راغلم
لکه غله له پسخاني درپسي راغلم

فرشته غني
تعبیرونه په خوبونو کي پوري نښلي
ځکه دغه یکشنبي درپسي راغلم

حسینه وفا
د انصاف لمن کي څه لري نصیبه
ورم تر څو به جنازي, درپسي راغلم

نرګس صافي
روژه ماتی مي تیار مېره ته کښنود
او زه ښرته خوارخوندي درپسي راغلم

درخانی
په ساتلو د وطن پسي چي تللي
د وجود تر دروازي درپسي راغلم

فرشته غني
آسمانونه له ژړاوو ستړي شوي
په ما بلي سري لمبي درپسي راغلم

حسینه وفا
کړي په تا مي ځوانیمرګي واړه هیلي
د ارمان تر غرغري درپسي راغلم

درخانی
زما زړه وی, زما ساه وی, په همدي خو
د خپل ژوند تر دي دایري درپسي راغلم

حسینه وفا
ما د سر سړي بایللي په میدان دي
رانه ټیټي دي شملي درپسی راغلم


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

آسیه محرابي
مـاتـه، ماته رواجو کړمه نـیـمـګړې
اخ ټوټې، ټوټې، ټوټې درپسې راغلم

آمنه فنا
یو سپېڅلی بغاوت مې زړه غوښتلو
ما کړې ماتې زولنې درپسې راغلم

سهیلا اصغري
څومره لیرې دې د میني محل جوړ کړ
ستمـېدلي او خـولې درپـسې راغـلم

آسیه محرابي
مـخـامخ کـتـلـې نـه شي او شـرمیږې!
خوله مې واخله له اوږې درپسې راغلم

*****

اتمه مشاعره:

په دې مشاعره کې نولس (۱۹) تنو ګډون کړی وو او پنځوس (۵۰) بیتونه یې تخلیق کړي دي.

د شاعرانو نومونه یې په لاندې ډول دي:

مژده باران، اسما کاکړ، مرسل احمدزی، عارفه عمرلور، آسیه محرابي، عابده سپوږمۍ، شکیلا نظري، ولوله عنایت تره کي، کامله عزیز، هوسۍ هوتکي، هما ظفر احمدزی، شبېه ګهیز، اسما کاکړ، فرشته سهاک، منزه زغم، رڼا زرمتی، فرشته صالحي، حسینه وفا او کامله عزیز.

# سملاسي مشاعره

## نومبر 18, 2020



سملاسي مشاعره، د مژدې باران د غزل په دو بېتونو

## غـزل

اسرافیل غوندې راپاڅه هنګامې ته ضرورت شته
دا پراته مړي ژوندي دي ارادې ته ضرورت شته

د بـرې سنـدرې وایـه او شپېلۍ په لاس کې واخله
ای د نـن ورځې مـلالې ستا ټپې ته ضرورت شته
مژده باران

د جـمـعې رنـګـینـه شپـه ده، ده د مینـې ډیوه بله
ماته ما خپله توبه کړه، بیا توبې ته ضرورت شته
اسما کاکړ

ټول خوبونه مې ایسار دي موږې ته به یې ویده کړې
ستا د خولې نکلونه غواړي، افسانې ته ضرورت شته
مرسل احمدزۍ

د دردونـو جـزیـره کې، نـه سـاقي شته نه جامونه
ډارونکې خاموشي ده، میخانې ته ضرورت شته
عارفه عمرلور

زما دي سر ستا دي څنګل وي، چې مې زلفې په مخ راشي
چې تـار، تار یې کړې راټولې، دې لحظې ته ضرورت شته
آسیه محرابي

زنـدګي لـه اوښکو جـوړه زندګي له خوښې ډکه
دلته څومره تفاوت دی ګذارې ته ضرورت شته
عابده سپوږمۍ

ټول ژوندون مې مراوې، مراوې، ټول سکون مې مراوې، مراوې
تـــه را پـــاڅـــه زمـــا ګـــرانـــه، دا ستـــا شـتـون تـه ضرورت شته
شکیلا نظري

زړه مې ډک دی له خبرو سترګې خبرګې مې پر لاره
رنـګـینـه مجلس به جوړ کړو پتاسې ته ضرورت شته
ولوله عنایت تره کی

چې را ړنـګ کـړي د فـرعـون، دا د ظلم دیوالونه
چې رالوی ورته موسی کړي، اسیې ته ضرورت شته
کامله عزیزي

مسـافـره بـیـرتـه راشـه چې دردنـو نـه فارغ شو
دی وطن کې یوې سترې هنګامې ته ضرورت شته
هوسی هوتکي

زما د ژوند کیسه دوه، درې لفظونه نه دي چې بیان شي
آه دلـبـرې! دیـرې لـوړې حـوصلې تـه ضرورت شته
هما ظفر احمدزۍ

چې آسیه مې شي خوشحاله قهر ورک شي، قهر ورک شي

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

دې خوږې دېـرې کې راشه، دې شپېې ته ضرورت شته
شپېه ګهيز

ستا د حسن په شغلو کې، لاره ورکه مې د دين شوه
تا زه هسې تـماشه کړم، که قبلې ته ضرورت شته
اسما کاکړ

سر مې واخيست لېونۍ شوم، ګرېوان څيري څيري ګرځم
دا جنـون نـه دی نـو څه دی؟ غرغرې ته ضرورت شته
آسيه محرابي

لار د وصـل مـو اغـزنــه، چـار چـاپـير غمازان دي
پام چې وار دې خطا نشي حوصلې ته ضرورت شته
ولوله عنايت تره کې

کـه مـې سل ځـلـه پـخـلا کـړې، زه يـې نه او زما نه ده
خو که ما په رښتيا غواړې، بيا جرګې ته ضرورت شته
شپېه ګهيز

سوله تش په ويل نه ده، سوله سر سربازي غواړي
طالب وايي ای د حورو طايفې تــه ضرورت شته
شپېه ګهيز

اخ زمـــا لــه تـصـور نــه، څـومره ليرې رانه لاړې
کاش دروالوزم مرغۍ شم، معجزې ته ضرورت شته
آسيه محرابي

د ژوندون پر له پسې دا ګوزارونه مې بې زړه کړي
پـه مـا پـام کوه ملګريه، ستا تکيې ته ضرورت شته
ولوله عنايت تره کې

که يې وبـايللم واوري که د بـل شومه نو داسې
کانې وکړه ای زړګيه جنازې ته ضرورت شته
شيبه ګهيځ

ښايسته يـمــه، پـستـه يـم، د سهـار مسته نغمه يم
يو ته نه يې اې جانانه !ننداري ته ضرورت شته
فرشته سهاک

دغه ژوند خنګه ګډوډ شو، په جګړو جګړو زاړه شو
شـيـطـانـانــو کړو مغلوبې، فرشتې ته ضرورت شته
آسيه محرابي

دغــه پــای بــه يـوه نوې ابتدا شي نن نه وروسته
نوی فصل نوې باب نوې کيسې ته ضرورت شته
مژده باران

د نـجـونو په مجلس کې که ته نه وای، هېڅ به نه ول
دا دېره چې پرې ښايسته شي آسيې ته ضرورت شته
منزه زغم

هره خوا ويراني راغله، تورتمي راخپره شوې
اې وګړو را پاڅېږئ! ولولې ته ضرورت شته



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

رڼا زرمتۍ

زما د عشق وړانګې ځلېږي، که تورتم وي که ماتم وي
داسې زړونو، مزاجونو او روحيې ته ضروت شته
آسيه محرابي

د شپېلۍ له شپېليو د کوچۍ تورې کوڅيو
نغمه ګره له ښکلا يې دې نغمې ضرورت شته
شبېه ګهيځ

چې دا نښه مو د مينې، د مېړانې او عزت وي
په سرو د پښتنو، هسکې شملې ته ضرورت شته
فرشته صالحي

د دردونو او غمونو فريادونه مې په غوږ کې
د خوښۍ سندرې وايه! زمزمې ته ضرورت شته
منزه زغم

مازيګر دی، لمر تېښتېږي، وارخطا يمه روانه
خوږ مجلس راسره لنډ کړه، اجازې ته ضرورت شته
ولوله عنايت تره کې

ډېرې هسکې مو جار کړي د وطن تر پاکې خاورې
چې بـه کله بدلون راشي، پښتنې ته ضرورت شته
رڼا زرمتۍ

چا له شا راپسې غبږ کړ ما وې ته يې ته يې ته يې
ای د ډېرو مودو ورکې، محکمې ته ضرورت شته
شبېه ګهيځ

دغه زه يم ستا وه شا ته، چې نارې درپسې کړمه
ستا د يوې سترګې سترګک يا اشارې ته ضرورت شته
آسيه محرابي

چې مې حال کې کړي بې حاله، سربدحاله او خماره
نرمې، ګرمې او خوږې يوې بوسې ته ضرورت شته
فرشته صالحي

ستا دې مينه په ما راشي، زما دې خوا شي درنه بده
چې مې خوا له راته شي، منزې ته ضرورت
شته آسيه محرابي

راشه، راشه يو ځل بيا په ما مئين په ما زړه بايله
بيا هماغسې يو ښکلې حادثې ته ضرورت شته
هما ظفر احمدزۍ

پټ له زړه سره مې ايښی بس همدا نښه دې پاته
ستا تصوير چې را ګويا کړي، يوې آلې ته ضرورت شته
ولوله عنايت تره کې

چې دا ستا په نوم رنګين وي, هر يو بيت يې وي ستا مينه
ستا په نوم غزله ليکم، قافيې ته ضرورت شته
حسينه وفا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

څـه حسين رنـګـين خـوبـونــه، چي د يار د حسن وينم
څه عجيب ښکلي منظر دی، نندارې ته ضرورت شته
آسيه محرابي

چي له ځنګ په بل ځنګ واورم، ستا يادونه راسره وي
کـه ګـهـيځ او کـه بېګاه وي، ستا جلوې ته ضرورت شته
رڼا زرمتی

کايـيـنـات د نجونو جوړ کړي، خدايه هره يوه زهره کړي
په نظام دې عدل جوړ کړه، دې دابرې ته ضرورت شته
آسيه محرابي

دا د شپي پــه خـامــوشـي کـي ځـنـګه دواړه يو بی حاله
ما دې غيرې ته درکش کړه، دی نشي ته ضرورت شته
فرشته صالحي

لا تـيـارو کي يــو راپـاتي، لا مزل مزل مو درد دی
که بريا غواړې فنکارې نو جګړې ته ضرورت شته
شېبه ګهيځ

مـعـشـوقـه د غــزل راغله ورسره په لاس مينا ده
زه نشه شومه، فنا شوم، دې نشي ته ضروت شته
آسيه محرابي

راوړه سترګي دې ښنمه، راوړه ځان پري غرقومه
پـيـمـانـي چـي درسره دي، بيا نشي ته ضرورت شته
مرسل احمدزی

چي مـي سـر ستـا پــر اوږه وي او ګـيـلـي درتـه کـومـه
څه پوهېږې چي مي څومره، دې شيبې ته ضرورت شته
کامله عزيزي

ډيـره سـخـتـه، په ساده لفظونو نه راځي بيان کي
دې بيان ته يوې سترې فلسفي ته ضرورت شته
هما ظفر احمدزی

واده وروستـه، وروستـه کـېـږي، اول نــورې وي خبرې
ته خو راشه په جرګي کي، بيا کوزدې ته ضرورت سته
شېبه ګهيځ

چي مرسل په لاس کي دروړم، خو لومړی شرط درته کېږدم
يوه غېږه پسته راکړې،


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولـئ